انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۱/۲۶

تـــمـــــه

یـارانـي د زمـانـي هسـي بـد رنـگ کـړم
لکه اوریی د خپل ځان سره په جنګ کړم
د سـیني چـیـغی لـوګـو کـی پټي لاړي
د خـلاصون **تـمـی** د هر کلی متلنګ کـړم
پـیـرزویـنـه مـی سـتـا ولـیـده صـنـمـه!
نیمه شپه کی چی دی بښکته له پالنګ کړم
د مـنـصـور دانـاالـحق نـاره شـوه ورکـه
د بنامارله خـولي بهر چي بل نهنګ کړم
زړې نښـي هـم را پـاتـی راتـه نـه شـوی
چي ورګډ په ګډولـه کی چا د رنـګ کړم
دا آزاد جـهـان له قـبر راته تـنـګ شـو
هـومره تا په پـیغورونـو اشنا تنګ کـړم
پـه غـرور دی کـلـیوال دومـره نشـه کړ
حاجت نشـته چی لا هـم نشـه د بنګ کړم

جنوری/۲۰۱۷/۲۲
تورنتو ــ کـانـادا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ